DAILY
# اراده
داځکان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه

سال ششم شماره ۱۲۲
شماره مسلسل ۹۸۹
دوشنبه ۱۸ ثور ۲۳۸۵ هـ.ش
۹ ربیع الثاني ۱۴۲۷ هـ ق
8 May, 2006

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

# نشست دیروزی ولسی جرگه به تشنج کشیده شد



نشست دیروزی ولسی جرگه که بمنظور بحث روی بودجه سال روان برگزار شده بود پس ازسخنرانی چند تن از نماینده گان به تشنج کشیده شد ودرین گیرودار تصویر بردار تلویزیون طلوع نیز از سوی دو سه تن از نماینده گان مورد ضرب وشتم قرار گرفت .

بی نظمی زمانی آغاز شد که حاجی الماس نماینده مردم کابل درمورد بزرگذاشت از روز هشتم ثور سخنرانی کرد واز پارلمان خواست تا به هیچ کس اجازه ندهد تا ارزش های جهاد و روز هشتم ثور را مورد سوال قراردهند.

ملالی جویا نماینده مردم فراه گفت که درافغانستان دو نوع مجاهد وجود داشت ، یک گروه برای آزادی کشور وگروه دیگر برای بربادی کشور جهاد کرده بودند.

ص۴

# جلال الدین حقاني د بڅو پر زده کړو نیوکه وکړه

د مجاهدینو یوه پخواني قوماندان او د طالبانو د کابینې غړي جلال الدین حقاني یو کسټ خپور کړی او په هغې کې یې د افغانستان نوی اساسي قانون د اسلام خلاف بللی دی

دغه کسټ چې په خوست کې د بي بي سي لاس ته ورغلی د بڅو زده کړې هم له افغاني دودونو لیرې بولي

د واکمنې ډلې رنګیدو جلال الدین حقاني د طالبانو راهیسې پټ دی

۴مخ

# درگیری در بغلان ۳ کشته ۳ زخمی داد

در اثر زد و خورد گروه های مسلح غیرقانونی در ولایت بغلان در شمال کشور، سه شهروند غیرنظامی کشته و سه تن دیگر هم زخمی شده اند. در میان این مجروحان، چند زن نیز هست.

مقامات امنیتی برای جلوگیری از ادامه درگیری به محل درگیریها رفته اند، اما قوماندانان مسلح غیرمسئول به کوه ها فرار کرده اند.

این درگیری برای بار دوم در ذست کم ده روز گذشته، در ناحیه بهارک ولسوالی اندراب ولایت بغلان به قوع پیوسته که این بار تلفات سنگین تر برجا گذاشته است.

قاری علم راسخ، والی بغلان برای از بین بردن تنش به ولسوالی اندراب رفته است. او را در این سفر نیروهای پولیس و واحدهای امنیتی و نیز گروه بازسازی ولایتی هالندی (PRT) مستقر در این ولایت، همراهی می کنند.

اما گزارشها از ولایت بغلان حاکیست که با رسیدن این هیات دولت به محل، قوماندانان درگیر جنگ به کوه های اندراب فراری شده اند و این هیات قادر نشده است آنها را خلع سلاح کند.

درگیری زمانی آغاز شد که دو قوماندان رقیب به نامهای عبدالغفور شاه محمود و یعقوب علی خان علیه یکدیگر آتش گشودند و با حمله به زندان محلی سعی بر فراردادن پیروان شان کردند.

به گفته پولیس محل دو مجرم "خطرناک" در پی تلاش این قوماندانان غیرقانونی از زندان فراری داده شده اند.

این دو قوماندان که در سالهای جنگ کشور زیر پرچم جمعیت اسلامی افغانستان می جنگیدند، حالا به دلایل مختلف با یکدیگر دشمن شده اند.

یک مقام پولیس که نخواست نامش فاش شود گفت قاچاق مواد مخدر، خصومتهای دیرینه شخصی و وفاداری این قوماندانان کوچک به قوماندانان بزرگتر که حالا به قوماندانی پولیس برخی ولایات تعیین شده اند، از عوامل این درگیری است.

ص۴

## د کنړ والي اسد الله وفا:

# په کنړ کې پوځي عملیات له ناکامی سره مخ دي

دهیواد په ختیځ کې د کنړ ولایت والي اسد الله وفا د یوه خبري غونډې پر مهال ویلي چې په دغه ولایت کې دافغان ملي اردو او ائتلافي ځواکونو روان پوځي عملیات له ناکامی سره مخ شوي دي. نوموړې وایي په کنړ کې روان پوځي عملیات داسې تر سره کیږي چې په اصطلاح مچ په توپ ولي.

د کنړ والي اسد الله وفا دغه خبري داسې مهال له خبریالانو سره د اسعد آباد په ښار کې شریکی کړی چې تیره ورځ د کنړ د ځوکی د ولسوالي مربوط دچلسو په غرونو کې د امریکایي ځواکونو یوه الوتکه راولویده چې له امله یې لس تنه پوځیان وژل شوي دي.

۴مخ

## سرمقاله

# ازعوامل مکتب سوزی، یکی هم دوری مردم از دولت وهمنوایی با مخالفانست!

رسم مکتب سوزی، ازهمان رسومی است که هر وقت گروههای متخاصم دولتی خواسته اند، رژیم مورد نظر را تحت فشار قرار دهند، بخصوص رژیم هایی که آموزش وسواد آموزی وتنویر افکار مردم را علیه تحجر وعقب ماندگی وعقب روی در دستور کار داشته اند، به مثابه یک سلاح نیرومند مورد استفاده قرار داده اند.

درزمان دولت مستعجل امانی علیه روشنگری وروشنفکری واکنش های سازمان داده شده از سوی استعمار انگلیس به گونه غیر ملموس رونما میگردید که مکتب سوزی بخشی ازآن بود .

در دههء اخیر نیز فرهنگ سوزی و مکتب سوزی بیش از هر وقت دیگر درکشور به رسم عام ومشروع بدل شده بود وپشتوانهء دینی یافته بود.

اکنون که یکبار دیگر طالبان با استفاده از فضای بازی که برای شان میسر ساخته شده ، با تغییر تاکتیک ازچند ماه به اینسو دهها مکتب را به آتش کشیده اند .

پرسش اینست که چرا مقامات دولتی ومسوولین حکومتی برای این معضل اجتماعی سیاسی موجود، پاسخ روشن و قناعت بخشی ندارند؟

اینهمه ادارات عریض وطویل واینهمه متخصصان ازخارج آمده، درکابینه و درجنب کابینه، چرا علل وعوامل این رسم ضد فرهنگی واستعماری وصادر شده ازآنسوی مرز را جدی نمیگیرند؟

چرا نمی بینیم که امنیت درمجموع طی چهار سال گذشته با وجود همه امکانات داخلی وخارجی وتأمینات اتخاذ شده بدوبدتر میشود؟

چرا نمی پذیریم که اقدامات نظامی - سیاسی بین المللی وکار کردهای دولت، پیوسته ، دربرابر پیروزیها وپیشرویی های ‹‹دشمنان افغانستان›› کمرنگتر وناتوان تر شده میرود.

عدم پیروزی دولت درسیاستهای اقتصادی و در عرصهء بازسازی وایجاد یک حکومت قوی ونیروهای تأمین کنندهء امنیت وبی نظمی های اداری ،مانند فساد وارتشاء وبی قانونی تعمیم یافته، در دستگاه اداره، همه وهمه زمینه هایی است که سیاستهای دولت را با تنش ومخالفت روبرو ساخته است .

چرا نمی پذیریم که به دلیل همین اوضاع درهم ریخته وآشفته ، مردم به دولت وبخصوص به حکومت بی اعتماد شده اند وهر روز ازآن فاصله میگیرند؟!

چرا این مقامات دولتی وحکومتی گوش شنوا ندارند که در منابر ومساجد وحلقات کتلوی مردم، درولایات علیه سیاستهای دولت وبرای تشویق دشمنان درزیر پوشش های مذهبی ودینی تبلیغات صورت میگیرد.

اگر مکتب سوزی روز به روز عامتر میشود ، این به مفهوم آنست که مردم یا بخشی از مردم محل با همان دشمنان دولت ومردم ، همصدا وهمنوا هستند.

ص۴

# کشته شدن یک تن از افراد بلند پایه طالبان درپاکستان

یکی ازمقامات بلند پایه دوره طالبان ازسوی افراد مسلح ناشناس درشهرکویته پاکستان کشته شد. اگر چه تاکنون انگیزه اصلی این رویداد روشن نشده است .

آژانس خبرگذاری پژواک به نقل برخی از باشنده گان شهر کویته میگوید که چون وی درین اواخر از دولت کنونی افغانستان پشتیبانی میکرد کشته شده است.

این شخص بلند پایه طالبان مولوی عبدالصمد بارکزی نام دارد که درزمان حاکمیت طالبان رئیس اداره امر باالمعروف ولایت هلمند بود . وی دو شب پیش هنگامی از سوی افراد مسلح سوار بر موترسایکل هدف رگبار گلوله قرار گرفت و به قتل رسید که بسوی منزلش درمنطقه پشتون آباد کویته میرفت .

مقامات امنیتی پاکستان میگویند که تا کنون کسی را به اتهام ارتکاب این قتل دستیگر نکرده اند، اما تلاش برای ردیابی عاملان این رویداد جریان دارد . یکی ازباشنده گان منطقه پشتون آباد که نخواست نامش را بگیرد به پژواک گفت که بارکزی برعلاوه فعالیت های دیگر در هنگام انتخابات ریاست جمهوری افغانستان مردم را تشویق مینمود تا درانتخابات سهم بگیرند.

# افغانستان په تیرو څلورو لسیزو کې

ص۲

# شورای ملی وصلح ملی

ص۳

په تیریسي

# افغانستان په تېرو څلورو لسیزو کې

قدرت الله بزګویاړ- هالنډ

په افغانستان کې یې سفیر ووژل شو او په ایران کې یې دپلوماتان او د سفارت کارکوونکي یر غمل ونیول شول امریکا د خپلو ګټو د ساتلو او د دپلوماتانو دآزادولو لپاره پر ایران د نظامي حملې ترتیبات نیولي وو، خو د سریع حرکت د څواک برید یې ناکام شو. هغه وخت پر افغانستان باندې د امریکا د مستقیم برید کولو کوم سند په لاس کې نه و.

ځینې منابع وایي چې حفیظ الله امین هغه وخت چې دی په امریکا کې په تحصیل بوخت و د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند ته د ننوتلو له دننه څخه د ګوند د متلاشي کولو او دګوند د پرمختګ د مخنیوي قصد و کړ. دا منابع وایي چې له همدې لامله حفیظ الله په امریکا کې خپل زده کړه نیمګړې پریښودله او وطن ته ستون شو. دا خبره عقل څکه منې چې حفیظ الله هم تر واکمنی دمخه او هم د واکمنی په وخت کې (دوړې دمیاشتې ۲۵، ۱۳۵۸ (کټ مټ همداسې وکړل. ګوند یې پر څو توټو وویشه، ګوندي او غیرګوندي معتبر شخصیتونه یې له مخې لرې کړل. ځینې یې له وطنه فرار کړل، ځینې یې بندیان کړل او زیات شمیریې په شهادت ورسول ده د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند له خوا د واک تر نیولو وروسته د نورمحمد ترکي هغه غوښتنه او تمایل په کلکه رد کړ چې له نورو مترقي ګوندونو سره جبهې جوړولو لپاره یې څرګند کړ. حفیظ الله پر خپل پلار او استاد هم رحم ونکړ، نو څکه په همدې وخت کې امین نه یوازې له ګونده بهر له سختو جګړو سره مخامخ شو، بلکې د ګوند دننه هم د ده پر ضد مخالفت تود شو. د ۱۳۵۸ کال دتلې د میاشتې په ۲۲نیټه خلقي افسرانو د امین د یکه تازۍ پر ضد په ټولو مرکزي قطعاتو کې د پاڅون تر ټیبات نیولي وو چې د خپلو جاسوسانو د رپوټونو په مرسته یې د هغه مخنیوی و کړ، خو یوازې د ریشخورو په فرقه کې د خلقي افسرانو قیام نږدې له ۱۸ ساعته مقاومت وروسته وټکول شو او تر ۲۰۰ زیات سرتیري او افسران پکې مړشول. حفیظ الله د خپلو سختو استبدادي اعمالو په نتیجه کې د خپلو ګوندي، ملي او بین المللي دوستانو ملاتړ له لاسه ورکړ. په داسې حال کې چې پر عامه تاسیساتو او ملي شتمنیو د دولت د مخالفینو بریدونه او په ولسوالیو او علاقه داریو کې د بمبارونکو، ډاکترانو او ملکي کارمندانو بیرحمانه ترور او وژنه ورځ په ورځ زیاتیدله، د امریکا مرسته اوملاتړهم ورسره مخ په زیاتیدو ووه او د یوري باندې د روان برید په اړه مرکزي قطعات په دې ګومان وو چې امین د کوم داخلي ځواک تر بمبارد لاندې دي او که څه هم په دې نه پوهیدل چې دا ځواک به د چا په رهبري عملیات تر سره کوي، خو په دې خوښ وو چې امین راوپرځول شي. له حفیظ الله څخه دده تر ارګ پرته نورو پوځي قطعاتو دفاع ونکړه او ارګ هم تر لرمقاومت وروسته تسلیم شو. دلته دا چې د حفیظ الله ظالمانه واکمني نسکوره شوه، ګوند او وطن تري په امان شو، خو زمونږ په هیواد کې جګړه د سړیدو په ځای نوره هم توده شوه اوداځکه چې د مخالفینو د تبلیغاتو له مذهبي بڼې سره ملي بڼه هم یو ځای شوه. امریکا تر پخوا زیات د خپل جنګي ماشین استقامت افغانستان ته وګرځاوه او زمونږ هیواد یې د تاوده جنګ په ډګروا په وشوروي ددې ویرې او ډار په سخته لومه کې ښکېل و چې که امریکاپر افغانستان یا ایران حمله وکړي نو د سړي جګړې سیال به یې جنوبي پولې ته راورسپړي. څوکاله وروسته د شوروي اتحاد په مشرتابه کې بدلون راغی چې د افغانستان په مشرتابه یې اغیزوکړ او زمونږ په هیواد کې هم بدلون او اصلاحات پیل شول. د ۱۳۲۲ هـ.ش. کال د سلواغې په شلمه ملي روغه جوړه اعلان شوه څه موده وروسته له افغانستان څخه د شوروي پوځ د وتلو لپاره د ژینو موافقه لاسلیک شوه او دا پوځ زمونږ د هیواد څخه ووت. له هیواد څخه د شوروي پوځ تر وتلو وروسته د افغانستان دولت مخالفینو ته دګډ حکومت جوړولو وراندیز وکړ. مخالفینو په وار وار د سولې او روغې جوړې خبرې رد کړې، ځکه چې جګړه له هماغه پیله د قدرت لپاره وه نه د شوروي پوځ د راتګ په خاطر. د مخالفینو له نه پخلا کیدونکي دریځ سره سره ډاکتر نجیب الله اصلاحاتو ته دوام ورکړ. هغه د ګوند نوم بدل کړ او د ګوندپه مرام کې یې هم بدلون راووست. د ژینو د ترون له فیصلو سره سم د ملګرو ملتونو استازي بینین سیوان د افغانستان د دولت او مخالفینو تر منځ د روغې جوړې کوښښ کاوه، خو د سولې دا هڅه د شمالي ټلوالي او د وطن ګوند دننه د ډاکتر نجیب الله د مخالفینو اتحاد او ګډې دسیسې ناکامه کړه. ډاکتر نجیب په کابل کې د ملګرو ملتونو په دفتر کې پناهنده او استخباراتي موسسې وې. له شمالي ټلوالي سره د طالبانو جنګ روان و او روسیه، ایران او هندوستان د شمالي ټلوالي تر شا ولاړ دولتونه وو. هغه وخت چې د ۲۰۰۱ ع کال د سپتمبر د میاشتې په ۱۱ نیټه د امریکا په متحده ایالاتونو کې د نیویارک او واشنګټن پیښې را منځته شوې، نو امریکا د افغانستان په اړه په خپله پالیسي کې د بدلون او د طالبانو د بدیل په فکر کې شول او د ډالرو په زور او دولتي قدرت په وعدویې د زنداني شو. مجاهدینو د ۱۳۷۱ کال د ثور په اتمه خپل مرکز له پاکستانه کابل ته انتقال کړ. دوی په لنډه موده کې دولتي دفترونه، بانکونه، موزیمونه، خاټکړي کورونه او هرڅه لوټ شول. بیت المال د غنیمت مال وګڼل شو. دقدرت د لاس ته راوړلو لپاره یې خپلمنځي جګړې پیل شوې، د کابل ښار او ټول هیواد د جنګي ډلو تر منځ وویشل شو. په څلورمه لسیزه (۱۳۷۳- ۱۳۸۳هـ.ش) کې د قدرت جګړې زور واخیست امریکا او لوید یزې نړۍ په ښکاره افغانستان یوازې پریښود. په دې لسیزه کې کور په کور، کلي په کلي او په ښارونو کې کوڅه په کوڅه چور او چپاول زیات شو په دې وخت کې طالبان له داسې شعار سره را منځته شول چې افغانستان او اسلام ته له مجاهدینو څخه نجات ورکوي. د طالبان دتحریک د راپیدا کیدو سره سم بین المللي خبري رسنیو داسې څرګنده وله چې دا تحریک د پاکستان دولت د امریکا له پلان او مشورې سره سم را منځته کړی دی. طالبانو د ۱۳۷۵ کال د میزان په میاشت کې د کابل تر نیولو سمدلاسه وروسته جمهور رئیس نجیب الله په شهادت ورساوه. دډغه کار په کولو سره د دوی ملي او بین المللي ملاتړ کمزوری شو. په ټوله نړۍ کې یوازې پاکستان، سعودي عربستان او بحرین چې د امریکا متحدین وو د طالبانو حاکمیت په رسمیت پیژنده. د طالبانو په واکمنۍ کې د ښونځیو دروازې وتړل شوې. سینماوې بندې شوې او په رادیو او تلویزیون کې پر موسیقۍ هم بندیز لګید. د بامیانو تاریخي بتان مات شول او د اسلام د احکامو تفسیر او تعبیر له نورې اسلامي نړۍ څخه جلا او بل ډول شو. د افغانستان اصلي واکمن عربي فراریان او د پاکستان شمال مقاومت لاپیاوړی کړ. د بیساري بحري او هوایي بمباري وروسته چې ګڼ شمیر بیګناه افغانان هم قرباني شول د مجاهدینو د حکومت دوهم پراو پیل شو. په دغه پراو کې د پاکستان اغیز کمزوری شو او دامریکا مستقیم اغیز او ملاتړ یې ځای ونیو. امریکا هوډ وکړ چې د افغانستان د چارو بهیر ته سم لوری ورکړي. د ۲۰۰۱ ع کال د نومبر د میاشتې په ۲۷ نیټه د بن کنفرانس جوړ شو چې د حامد کرزي په مشرتابه یې مؤقته دولتي اداره را منځته کړه. د مؤقتي اداري پسې اضطراري لویه جرګه، بیا د لنډمهالي حکومت جوړول، ورپسې د اساسي قانون د تصویب لپاره لویه جرګه او بیا د جمهور رئیس د ټاکلو لپاره انتخابات له څو ناخه تېروتنو سره سره ټولې مثبتې چارې وې. د تېرو څلورو لسیزو پیښې لکه د څنګیز کړۍ یو له بله په ارتباط کې دي. که څوک هڅه وکړي چې یوه پیښه له بلې څخه جلا مطالعه کړي او د سلسلې مراتب له پامه وغورځوي نوهغه به په قصدي توګه دیو چا د مسول کولو او بل ته د برائت ورکولو نیت او اراده لري او د واقعیتونو تحریف ته به یې ملا تړلې وي. تیرو پیښو ته تر پورتنۍ لنډې کتنې وروسته په ځای بولم چې د تېرو غمیزو او د هغو د لاملونو په اړه ځینې پوښتنې طرحه کړم او د معاصر تاریخ له پوهانو، حقوق پوهانو، او د بین المللي حقوقو له متخصصانو او نورو پوهانو څخه هیله وکړم چې دپاک وجدان د قضاوت په سیوري کې ورته بې تعصبه ځوابونه ووایي:

- ایا د ۱۳۴۳ کال د اساسي قانون ارزښتونه او د مشروطه شاهي، د ګوند ونو، مطبوعاتو او مظاهرو د ازادۍ منلو ته د پاچا چمتووالی له وخت څخه دمخه کار و او که رون اندوتري ناوړه استفاده وکړه؟

- ایا دا د پاچا ګناه وه چې په لسو کالو کې یې د ګوندونو قانون لاسلیک نه کړ چې رون اندو د هغه په رنا کې خپل تګلاره تاکلې وای او له سوله ایزو لارو خپلو موخو ته رسیدلې وای نه د وسلوالي مبارزې له لارې؟

- ایا د دموکراسۍ په دوره کې د ولسي جرګې او حکومتونو تر منځ د توافق هیښنې نشتوالی چې پایله یې د ۵ صدراعظمانو ګوښه کیدل وو په هیواد کې د بې ثباتۍ لامل ګڼل کیدای شي که څنګه؟

- د دموکراسۍ په تازه- پیلي بهیر کې د عقرب د دریمې نیټې د سوله ایزو مظاهرو د بیرحمانه سرکوب اغیز او له ورپسې راتلونکو پیښو سره یې ارتباط څنګه ارزوې؟

- ایا په ۱۳۵۱ هـ.ش. کال کې له ایران سره د هلمند د اوبو د ویش قرارداد چې د دواړو هیوادو صدراعظمانو، موسی شفیق او امیر عباس هویدا لاسلیک کړ د راتلونکو پیښو اصلي لامل حسابیدلای شي؟

ایا ۱۳۵۲ کال د سرطان د میاشتې د ۲۲ نیټې کودتا چې د سردار محمد داؤد لخوا په توره شپه کې چې په ظاهره د هلمند درود د اوبو د ویش له قرارداد سره د مخالفت په پلمه تر سره شوه، شاهي نظام یې رنګ او د زور له لارې قدرت ته رسیدل یې دود کړل د غمیزو پیل نه شمیرل کیږي؟

- ایا په خطاب بمردم افغانستان کې له خپرو شوو مرامي کرښو څخه، چې د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند یې ملاتړ کاوه، د محمد داؤد مخ اړونه او په دې پلمه د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د رهبري ډله ایز بندیانول چې د مرکزي کمیتې د ترور شوي غړي میر اکبر خیبر جنازه یې په پرتمین او سوله ایز ډول خاورو ته سپارلې وه د ورستیو پیښو لامل نه و؟

- ایا د پاکستان له خوا د افغانستان د جلا وطنې حکومت جوړولو، افغانستان ته د جهاد په نامه د عربو او پاکستاني مشاورینو لېږلو، د افغانستان د دولتي نظام د تخریب په موخه د بهرنیو استخباراتي مؤسسو فعالیت ته د زمینې برابرولو او د اور لمبوته لمن وهلو د پرله پسې ورستیو پیښو د رامنځته کیدو لپاره بنسټ ندی ایښی؟

ایا له شوروي اتحاد څخه د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند لخوا پرځې مرستې غوښتنه د بهرنیو مداخلو له املې نه وه؟

ایا د افغانستان په کورنیو چارو کې د ایران د اسلامي جمهوریت مداخلو چې د اسلامي انقلاب د صادرولو تر شعار لاندې پیل شوې زمونږ د هیواد په حالاتو اغیز نه درلود؟

- له افغانستان څخه د شوروي پوځي قطعاتو تر وتلو وروسته د افغانستان د دولت د ملي پخلاینې او روغې جوړې د وړاندیز ردول چې بین المللي ملاتړ ورسره و د چامسؤلیت دی؟

- ایا د ملګرو ملتونو د استازي ښاغلي بینین سیوان په منځګړیتوب د روغې جوړې د خبرو د سبوتاژ پړه د چا پغاړه ده؟

- ایا د کابل د ښار د ورانولو او په ښارکې د راکټونو او توپونو په ډزو سره له شپیته زرو څخه د زیاتو بیګناه ښارېانو د وژلو پړه د چا په غاړه ده؟

مونږ د دریمې لسیزې ۱۳۷۳- ۱۳۸۳ هـ.ش. په باره کې دمخه خبرې وکړې او په دې برخه کې نورې خبرې به تکراري بڼه ولري، خو یوازې دومره وایم چې د هرې لسیزې د حاکمانو اصلي څیره د قدرت تر نیولو وروسته څرګندیږي. ګرانو هیوادو! سو او نړیوالو ولیدل چې په هیواد کې قتل و قتال او د تمدن تخریب د قدرت او چوروچپاول په خا طر و شول نه د اسلام لپاره. ګران هیوادوال پوهیږي چې طالبان چا را وستل، عربان چا راوستل، افغانستان چا د بین المللي تروریزم د تربیې په مرکز واړوه او نابللو خپلسرو میلمنو ولې او د چا په مرسته زمونږ له هیواد څخه د بین المللي تروریستانو د تربیې تعلیمي مرکز جوړکړ او زمونږهیواد د چا د ګټو لپاره په نړۍ کې د تریاکو د تولید او قاچاقو لومړی درجه هیواد شو. ایا د بامیانو د بتانو پر توپ ویشتل او د نیویارک د لوړو برجونو ورانول یوازې د عربي میلمنو مسؤلیت و؟

په پای کې لنډې پوښتنې دادې چې ملامت څوک دي؟ لومړی، مشروطه شاهي که لومړی جمهوري نظام، لومړی دموکراتیک جمهورت که لومړی اسلامي جمهوریت او یا لومړی اسلامي امارت، سړه جګړه، زېر ځواکونه که د ګاونډیانو لاسوهنې کینې افراط که بنې افراط؟

ایا د افغانستان د پرله پسې اشغال بهیر د افرادو او اشخاصو په خاطر و که له افغانانو سره د دوستۍ په خاطر او یا هم د زبر ځواکونو او ګاونډیانو د ستراتیژیکو موخو په خاطر؟ زه باور لرم چې د پورتنیو پوښتنو د ځواب لپاره کتابونه او کلونه په کار دي.

زما وړاندیز دادی چې راځئ ټول په ګډه یو شی ملامت کړو او هغه د بیسوادۍ لوی رنځ چې نفاق ورسره ملګری دی. اوس زمونږ د ټولو دردونو فوري علاج یوازې او یوازې اتفاق او ملي یووالی دی. که مونږ له تیرو حوادثو درس اخیستی وي او هوښیار شوی ملت خانته وایو نو ملي ګټې به دغج او انتقام او د هر ډول تعصب له روحي څخه په مراتبو اوچتې وګڼو او سرتاسري ببنه او ملي پخلاینه به مو نه ماتیدونکی شعاروي.

پای

# شورای ملی وصلح ملی

رحمت الله - رسا



شورای ملی همان گونه که از نـامش پیداسـت، خانـه ملـت اسـت ، خانـه ملـت سـتمدیده ومظلـومی کـه از اثر بحران ۲۵ ساله سخت سـتم دیـده وهمـه دار وندارشان را از دست داده اند، وامیـد شان بـه دولت انتخـابی ، قـانون اساسـی وشورای ملی میباشد.

امـا اینکـه دولـت چگونـه عمل میکند این هم معلـوم است و اینکه قانون اساسی تـا چـه حـدتطبیق میشـود این هم معلوم است .

وآخـرین امیـد ایـن ملـت بیچـاره کـه از اثـر جنـگ های داخلـی وحـق وناحق کشور شان به یـک ویرانـه تبدیل شده به شـورای ملـی میباشد. ووکلای محترم هم نمایندهء مردم میباشند .

هـر شـورای ملـی درجهـان مانند شورای ما بـرای خـود قانون واصـول اساسـی دارد .کـه همـه پـیش آمـد واجـراآت داخـل شـورا توسط اصول اساسـی شـورا حـل میشـود، ومسـأله دیگراینکه هر شورا دارای نظـم میباشـد یعنـی اگـر درشورایی نظم نباشد همـه کارهـای اجرایـی وتصـمیم گیـری هـای آن بـرهم ودرهم خواهد شد .

همـه نهادهـا، صـنف هـا واتحادیـه هـا چـه دولتـی و چـه غیـر دولتـی بـرای خودشان فرهنگ وادبیـات خاص خود را دارند.

وامـا شـورای ملـی کـه سـمبول حقـوقی وسیاسـی وافتخـار ملـت اسـت هـم دارای فرهنـگ وادبیـات بسـیار بلنـد ومودبانـه وصـمیمانه یـی است کـه بایـد در هـر شـورایی ایـن صـمیمیت، احتـرام متقابـل درنظر باشد.

درهـر شـورا وپارلمـانی احـزاب متفـاوت، اندیشـه هـای متفـاوت، مـذاهب متفـاوت، حتـی ادیـان متفـاوت وفلسـفه هـای متفاوت وجـود دارد. ولـی همـه وکـلا و سـناتوران محترم آن پارلمان وظیفه پارلمـانی باشـد ، ودرکـل باید درفضای پارلمـان یـک صلح ملی و صلح کل حـاکم باشـد. وصـلح ملـی،و صلح کلی کـه بنـده درنظـر دارم تحمـل یکـدیگر ، احتـرام گذاشـتن بـه یکـدیگر ودوسـت داشـتن یکـدیگر بـه خـاطر دوشـت داشـتن یک ملت ستمدیده میباشد البته نویسنده ایـن سـطور به فرد، فرد وکلای عزیـز ، سناتوران عزیز وطن خـود احتـرام دارم ونوشتهء من متوجه کدام شخص معین ویـا کـدام وکیـل و سـناتور معـین نمیباشـد ، مـن بـه حیـث یـک همـوطن، دلسـوزی ، تـرحم وهمکـاری بیشتر پارلمـان مان را به ارتبـاط مـردم مـا آرزو دارم .

وگروپی انکـار نـدارم یـک چیز طبیعی است ولی شیوه بـه کـار گیـری آن بایـد مطـابق اخـلاق و ادب

## تر هغه چې په خپل ځان متکي نشو د سوکالۍ څرك نه شو ليدلای

اشرف

کله چې د خپل هیواد هر اړخیز وروسته پاتی والی ګورو او د نړۍ د نورو هیوادونو پرمختګونو سره خپل هیواد پر تله کوو ویلای شو چې زمونږ هیواد د ژوندانه په هره برخه کې د پیړیو په منزل له نورو څخه وروسته پاتی شوی دی.

ځینې پدې اند دی چې زمونږ هیواد د جګړو له املـه وروسـته پـاتی دی ځنې بیا له جګړو سره سره د تعلیمي برخی کمزوری ستر عامل بولي، له دې پورتنیو علتونو څخه هم سترګی نشو پټولی خو باید ووایو چې د هیواد د ژوندانـه د هـر اړخیـز پـرمختګ، سـوکالی سراسری امن او قانونیت د رامنځتـه کولـو او پـه تولیدي او کاري لحاظ د هیواد د پرمختګ لپاره تر هر څه لومړی د هیواد پـالنی احسـاس، د لـوړ پوړو مسوولینو تخصص، کـاري تجربـه اومسـلکي وړتیا زیات ارزښت لري. زمـونږ مسـوولین زیـات پدې کوښښ کې دی چې لـه بهرنیـو هیوادونـو سره په رسمي ټرونونو باندې زیاته تکیه ولري او زیاتره وخـت خپـل ټرونونـه د خلکو سترګو تـه وړاندې کوي، په ځینو برخو کې خو کیدای شي چې مونږ د تولید لپاره امکانات ونه لـرو او وارداتـي ټرونونـه ضرور وي. خـو پـه ډیـرو سـاحو کـې بایـد خپـل امکانات رامنځته کړو.

د بیلګې په توګه نن سبا د ژوندانه په ټولو خواوو کې بریښنـا یـو ډیـر ضروری څیز دی چې باید په هیواد کې تر هرڅه لومړی د امن او امنیـت او قانونیـت د تطبیق په څیر ورته پاملرنه وشي مونږ له ترکمنستان سره د بریښنـا تـرون لاسلیك کوو چې هرات، کابـل، مـزار شـریف او کندهار تـه بریښنا ورکړي اوس چې ۲۰۰ میګا واټه بریښناراکوي نو د قرارداد پر بنسټ بـه ۸۰۰ میګـا واټو تـه ورسیږي خو زمونږ خپلې اوبـه بهـر تـه روانـي دي ولـې زمـونږ دولـت لـه خپلو اوبو څخه د استفادې په برخه کې د بربښنا بندونو جوړولو د بریښنا ډیمونو جوړولـو زمینـه نشـي برابرولـی، مونـږ پـه خپـل هیـواد کـې ددې امکاناتو په رامنځته کولو کې نه یوازې خپلې اړتیا په دننه کې پوره کوو بلکې د زرونو هیوادوالو لپاره د کار زمینه برابرولای شو.

مونږ کولای شو د کابل ـ جـلال آبـاد پـه لاره پـه ورینښمین تنګـي کـې د سروبي د بریښنا په څیر د بریښنا امکانات و ځیړو د کنړ په سیند هم د زیاتو ډیمونـو د جوړولـو امکانات لرو د داود خان په وخت کې پلان و چې د کنړ سیند د ګمبری په دښت راواړوي د درونټی کاسې ته او د کابل سیند د ککرك په تنګي جنوب لـوری تـه واړوي. خـو د پاکستان په مداخله دغه هڅه په اوبو لاهو شوی ده پاکستان نه غواړي چې د کنړ په سیند ډیمونه جوړ شي ځکه د ورسك بریښنا بنـد فلجیـږي. مونـږ سـوداګرو تـه جوازونـه ورکـوو زمـونږ د وارداتـو سـطحه ورځ پـه ورځ لوړیږي چې داسې بازار زمونږ په درد نشي خوړل کیدای ځکه چې له یوې خوا زمونږ پیسې او اومه مواد بهـر تـه ځي او بـی روزګـاري هم پـای تـه نـه رسـږي. نـو کـه دولـت غواړي چې بیکاري ختمه کړي او د خپلو تولیداتو خاونـدان شـو او خپلـه د کې تر هرڅه لومړی د امن او امنیـت او قانونیـت د تطبیق په څیر ورته پاملرنه وشي مونږ له ترکمنستان سـره د بریښنـا تـرون لاسلیك کـوو چې هرات، کابـل، مـزار شـریف او کندهار تـه بریښنا ورکړي اوس چې ۲۰۰ میګا واټه بریښناراکوي نو د قرارداد پر بنسټ بـه ۸۰۰ میګـا که حالت همداسې روان وي پـه هیـواد کـې د بدبختیو د پای ته رسولو څرك نشو لیدلی.

# کار د کار په خلکو تر سره کیدلای شي

عبد اللطیف - منت باز

له څه ځنډ نه وروسته کله چې د کابینې غړو د ولسي جرګې نه د خپل باور رایه تر لاسه کړه نو زمونږ دوطنوالو امیدواري هم پسې زیاته شوه چې له دی وروسته به ځوك په روابطو تکیا نه کوي، او خپلې ورځنۍ دندې به په پاکی او شفافیت سره سرته رسوي. ځکه دوی د ولسي جرګې د ازمون نه راوتلي او د ملت د استازو ملاتړ یې تر لاسه کړی دی او دوی یې له پخوانـه زیـات خپلـو مسـئولیتونو تـه متوجـه کړي دي اوس چې دوی د سوګند نـه وروسـته خپلې دندې تر لاس لاندې نیولي دي نو دوی دنده لري چې خپل خدای (ج) حاضر او ناظر وبولي او یوازې او یوازې دغه فقیر او غریب هیواد ته په زیات زړه سوی باندې کار وکړي او په خپل کار باندې خپل خدای (ج) او دخدای مخلوق تـه د زیـات خـدمت مصـدر وګرځي.

زمـونږ وطنـوال چـې د بیکاری او بی روزګاری په بټ کې سوځیدلی دی او لا تر اوسه پورې ددوی ځوان استعدادونه د خاورو لاندې شوي او په ډیری خواری او نا امیدوی کې ژوند کوي ددوی کړو ته سترګې په لاره دي چې ایا دوی به په خپله کړنلاره کې کوم تغییر منځ ته راولي او که به د پخوا په څیر په روابطو او خپلوانو باندې خپلې سترګې خوړوي.

هغوی چې له پخوا نه دغه دندې په غاړه درلودی او خپلوان یې پرځان راټول کړي وو اوس نـو ورتـه پـه کـار داده چـې پـه خـپلې سـوګند نـامې بانـدې ودریږي خیانت به نه کوي. خپل او پردې ته به په یوه سترګه ګوري، په نرمی، محبت او پیرزو باندې به چال چلند کوي، دهیواد شتمنیو ته به په ارزښت ورکولو سره پاك او شفاف ګامونـه پورتـه کـوي، د عیش او نوش پر ځای به کار تـه متی رانغاړي او هیـواد تـه بـه د زیـاتی پرمختیا وسیلی برابروي.

خـو هغـه وزیـران چـې د وزارت د چـارو سـره ټـوي اشنا کیږي دوی باید خپلې دنـدې پـه مسـئولیت سـره سـرته ورسـوي او خـپلې ورځنـی چـارې د یـوه ځانګړي پلان او پروګرام لـه مخې پرمخ بـوزي، ځکـه دوې پـه خپلـو خبرو کـې د ولسي جرګې د غړو سره ددی ژمنه کړي، که ورځنۍ چارې پـه شـفافیت سـره سرته ونـه شـي رسـولی نـو ولسي جرګه کولی شي چې که مصلحتونه پـه غـرض باندې ولاړوي نو هیواد تـه یې هم کومه ګټه نـه شـي رسیدلی او که مصلحتونه ددې له پاره وي چې تشي ډکی شي او د نیمګړتیاوو لرې کولو ته ملا وټړل شي نـو بیا هر یـو وزیر غټی نـومری هم تر لاسـه کـوي اود ښه پیاوړي او کار پوه شخص خطاب به هم ورتـه کیږي.

نـو ښه داده چې د دولـت د کـابینې غـړي کـار وکـړي شـپه او ورځ پـر ځـان یـوه کانـدي او دغـه بیـوزلی هیـواد تـه د پـرمختګ پـه زړه پـورې زمینې برابـري کړي. دا ځکه چې د هیواد هر فرد لـه دوی څخه د کار هیله لري او دوی ته په کار دي چې پـه بیړنـی توګـه د خپلو وطنوالـو غوښتنو تـه پـه شـفافیت سـره ځوابونـه ووایي.

# ایران در مورد پیش نویس قطعنامه هشدار داد



در حالی که اعضای شورای امنیت سازمان ملل متحد هنوز درباره چگونگی برخورد با برنامه هسته ای ایران به توافق نرسیده اند، ایران هشدار داده است که صدور هر گونه قطعنامه ای که خواهان قطع این برنامه باشد، تاثیر منفی خواهد داشت و روابط با غرب را بدتر خواهد کرد.

وزارت امور خارجه ایران بار دیگر تکرار کرده که ایران قصد متوقف ساختن برنامه غنی سازی یورانیوم را ندارد و هر گونه اقدام در زمینه مجبور ساختن ایران به توقف این برنامه، غیرقانونی است و باعث تغییر رفتار ایران از همکاری به تقابل می شود.

به گزارش خبرگزاری جمهوری اسلامی، ایرنا، حمیدرضا آصفی سخنگوی وزارت امور خارجه ایران در کنفرانس مطبوعاتی هفتگی خود گفته است: ورود شورای امنیت سازمان ملل متحد به موضوع دوسیه هسته ای ایران و اتخاذ تصمیم نادرست این شورا دراین زمینه، مسیر کار را از همکاری به تقابل سوق می دهد.

آقای آصفی گفت: اگر شورای امنیت قطعنامه ای صادر کند که در آن حقوق ایران به رسمیت شناخته نشده باشد، جمهوری اسلامی ایران آن را اجرا نخواهد کرد.

آقای آصفی این اظهارات را چند ساعت پس از آن مطرح کرده که اعضای شورای امنیت برای بحث درباره پیش نویس تهیه شده از سوی بریتانیا و فرانسه یک جلسه غیررسمی برگزار کردند اما جلسه آنها بدون نتیجه پایان یافت.

روسیه و چین نسبت به این قطعنامه شدیدا اظهار نگرانی کرده و گفته اند از آن بیم دارند که چنین قطعنامه ای به تحریم یا اقدام نظامی علیه ایران منجر شود.

پیش نویس این قطعنامه که توسط بریتانیا و فرانسه و تحت حمایت امریکا و آلمان تنظیم شده خواستار توقف غنی سازی یورانیوم از سوی ایران است و تهدید کرده که در صورت امتناع تهران از این امر، اقدامات دیگری اتخاذ خواهد شد.

روسیه می گوید این پیش نویس باید اصلاح شود و تاکید بیشتری بر موضوع اعتمادسازی میان ایران و سازمان ملل متحد داشته باشد.

چین نیز می گوید نگران آن است که کشورهای غربی پیش نویس را بر اساس آن دسته از قوانین سازمان ملل تهیه کرده باشند که می تواند راه را برای توسل به نیروی نظامی علیه ایران هموار کند.

وزیران امور خارجه پنج عضو دائم شورای امنیت روز دوشنبه این هفته، هشتم می، برای بحث در این مورد در نیویارک دور هم جمع می شوند.

آقای آصفی در کنفرانس مطبوعاتی خود همچنین بار دیگر موضوع گفتگو میان ایران و امریکا را رد کرد و گفت هنوز زمینه انجام این گفتگوها فراهم نیست.

سخنگوی وزارت امور خارجه ایران به موضوع تغییر برخی از اعضای کابینه بریتانیا نیز اشاره کرد و گفت جک استرا قربانی سیاست های تونی بلیر در طرفداری از امریکا، شده است.

در همین حال شورای همکاری خلیج فارس از ایران خواسته است برای ثبات منطقه و اجتناب از بروز یک فاجعه زیست محیطی، با کشورهای همسایه شفافیت بیشتری داشته باشد.

خبرگزاری امارات متحده عربی گزارش داده است که رهبران کشورهای عضو شورای همکاری خلیج فارس خواستار تضمین هایی از ایران در زمینه امنیت و ثبات منطقه شده اند.

شیخ عبدالله بن زاید آل نهیان، وزیر امور خارجه امارات متحده عربی به نمایندگی از سوی این کشورها از ایران خواست در مورد برنامه هسته ای خود با همسایگانش به طور کامل شفافیت داشته باشد.

خبرگزاری رسمی امارات متحده عربی به نقل از وزیر امور خارجه این کشور گزارش کرده است که برنامه هسته ای ایران زنگ خطری نه تنها برای منطقه بلکه برای کل جهان است.

شش کشور عضو شورای همکاری خلیج فارس نیز در ریاض پایتخت عربستان سعودی جلسه داشتند و مناقشه بین المللی بر سر برنامه هسته ای ایران از مباحث اصلی این جلسه بود.

## از عوامل مکتب سوزی...

اگر مکتب سوزی درچند ماه از مرز پنجاه وشصت گذشته است . به این دلیل است که دست حکومت ودولت دربازخواست وتطبیق قانون کوتاهی ونارسایی میکند. چرا مقامات آگاهی ندارند که والی ها و قوماندانان امنیه ، ولسوالان وسایر مسوولان امنیتی ولایات تاوقتی با سیاستهای « دشمنان مردم افغانستان » با نرمش وبا محافظه کاری ویا هم با سازش عمل میکنند ، وچرا این پیشبینی ها را ندارند که تایکی دوماه دیگر همه مکاتب این ولایات به خاکستر خواهد نشست درینصورت بهتر است دولت وحکومت ناتوانی های خود را برطرف کنند و ازسیاستهای دو پهلو که هم به نعل میزنند وهم به میخ، خود داری نمایند. وعده های میان تهی مقامات در طی چهار سال گذشته جایی را نگرفت، به جای وعده دادن های کذایی و بی خاصیت، این مقامات باید تدابیر عاملانه وعاقلانه را سردست بگیرند، درغیر آن تا دوسه ماه دیگر ما با وضعیت بدتری روبرو خواهیم بود.

## نشست دیروزی...

درجریان این تشنج تمامی تصویربرداران رسانه ها ازین صحنه تصویر بر میداشتند ولی یکی دو تن از نماینده گان تنها تصویر بردار تلویزیون طلوع را برخلاف تمامی اصول پذیرفته شده دیموکراسی وآزادی بیان مورد تحقیر و اهانت قرار دادند واز سالون اخراج کردند وحتی گاردهای امنیتی ولسوالی جرگه نیز اجازه ورود دوباره تصویر برداران تلویزیون طلوع را بداخل سالون ندادند.

## جلال الدین حقاني د نښځو...

دی یو له هغو کسانو څخه دی چې په افغانستان کې په ده پسې نړیوال ایتلافي ځواکونو ګرځي او د ده د نیولو لپاره یې انعام تاکلی دی.

د حقاني دغه کسټ ایله څو ورځې تر هغه وروسته خپریږي چې د اسلامي ګوند مشر ګلبدین حکمتیار یو ویډیویي کسیټ په عربي ژبه خپور کړ او له اسامه بن لادن سره یې د همکاری هوډ وکړ. په دې وروستیو کې د پاکستان پولو ته نږدې طالبانو ځینې رادیویي خپرونې هم کړي دي.

افغان چارواکي وایي دا د طالبانو د بې وسۍ نښې دي او اوس یې د دوی په وینا تبلیغاتي هڅو ته لاس اچولی دی

## په کنړ کې پوځي عملیات...

د کنړ والي زیاتوي د مولوي منیب او اسماعیل په نامه دوه مخالفین چې د ننګرهار ولایت د دره نور ولسوالي اوسیدونکي دي په داسې یوه سیمه کې اوسیږي چې د ختیځو څلورو ولایتونو پورې نښته ده. او له هر ولایت څه چې عملیات پرې تر سره کیږي بل ته اوړي.

نومورې وایي دغو مخالفینو پسې باید سمه څارنه وشي تر څو ژوندي ونیول شي او له روانو پوځي عملیاتو څخه ناخوښه دي.

د کنړ والي اسد الله وفا وایي د کنړ په ۱۴ ولسوالیو کې هیڅ ډول امنیتي ستونزه نشته خلک کولای شي په ډاډه زړه پکې تګ راتګ تر سره کړي. د یادونې وړ ده چې د تیرې یوې میاشتې راهیسې د کنړ په یو شمیر غرنیو سیمو کې د افغان ملي اردو او ائتلافي ځواکونو له لورې عملیات روان دي چې تر دې دمه د وینا له مخې د مخالفینو په له منځه وړلو کې بریالي شوی نه دي.

## د ننګرهار په ځینو ولسوالیو کې د کوکنارو کښت له منځه وړل شوی دی

د ننګرهار ولایت امنیتي چارواکي وایي چې تیره ورځ یې ددې ولایت په بیلا بیلو ولسوالیو کې څه باندې ۸۰ جریبه ځمکه د کوکنارو له بوټو څخه پاکه کړې ده.

د ننګرهار د امنیتي قوماندان ویاند عبدالغفور ویلي چې دغه کوکنار د ده بالا، سپین غر، بټې کوټ او هسکې مینې په ولسوالیو کې له منځه وړل شوی دی او دا لړۍ به لاپسې دوام ومومي.

ده څرګنده کړې ده چې د کوکنارو د کښتونو د له منځه وړلو په برخه کې د یاد شوو سیمو سپین ګیرو او قومي مشران هم له دوی سره مرسته کړې ده.

خبر زیاتوي چې د سیمې بزګرانو د خپلو کوکنارو د له منځه وړلو په مهال هیڅ ډول غبرګون نه دې ښودلی خو یوازې دومره یې ویلي دي چې باید له دوی سره په نورو برخو کې د دولت او نړیوالو موسسو له خوا لازمې مرستې وشي.

## در گیری در بغلان...

این مقام پولیس می گوید حالا که حرفها در مورد تغییر قوماندانان پولیس ولایات کشور انتشار یافته، آنها سعی دارند با راه اندازی این نوع تنشها، نشان دهند که هنوز هم قدرت زیادی در محل در اختیار دارند.

به گفته مسئولان برنامه "دایاک"، یا جمع آوری سلاح از گروه های مسلح غیرمسئول، این دو قوماندان که هزاران قبضه سلاح در اختیار دارند، حاضر نشده اند حتی یک میل کلاشینکوف هم به دولت بسپارند.

اما این نخستین بار نیست که دو قوماندان اندراب با یکدیگر می جنگند و پس از جنگ هنگامیکه پولیس به محل می رود، به کوه ها متواری می شوند.

دو هفته پیش در اثر درگیری همین دو قوماندان حداقل یک نفر کشته شد.

مردم محل می گویند تنها راه خلع سلاح و بازداشت این قوماندانان استفاده از نیروی آیساف خواهد بود.

آنها می گویند طیارات آیساف در کوه ها این افراد را دنبال و دستگیر کنند، چیزی که گفته می شود از توان دولت محلی در بغلان خارج است.

مردم می گویند اگر هیات دولت مرکزی به پلخمری (مرکز ولایت بغلان) برگردد و این قوماندان خلع سلاح نشود، آنها دوباره از کوه ها پایین خواهند آمد و ضمن درگیری، امنیت و آرامش مردم اندراب را به مخاطره خواهند افگند.

ارداده
زیرنظرهیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar ( Mobil phone :070222726)
eradadaily@yahoo.com
eradadaily@hotmail.com